# لیلا، د فوټبال ستوری


Eden Daniels
Eden Daniels
Zahidullah Abid

2
پښتو ps

ليلا د هلکانو د فوټبال ننداره کوله. هغې غوښتل چې کاش له دوی سره لوبېدلې وای. هغې له لوبډلمشر څخه وپوښتل، ایا کولی شي له دوی سره تمرين وکړي؟

روزونکي خپل لاسونه شاته ونيول او هغې ته يې وويل:
“په دې ښوونځي کې، يوازې هلکانو ته اجازه شته چې
فوټبال وکړي.”

هلکانو هغې ته وویل چې ولاړه شه او د نېټبال (جال بال) لوبه وکړه. دوی ورته وویل چې نیټبال د نجونو لپاره دی او فوټبال د هلکانو لپاره دی. لیلا ډېره زیاته خپه شوه.

بله ورځ ښوونځي د فوټبال یوه لویه سیالۍ درلوده. روزونکی ډېر اندېښمن و، ځکه چې د هغه غوره لوبغاړی پدې ورځ ناروغ و، او لوبه نه شوه کولی.

ليلا د ښوونځي د فوټبال روزونکي ته ورغله، او ورڅخه يې وغوښتل چې هغې ته اجازه ورکړي چې لوبه وکړي، روزونکی ډاډه نه و چې ليلا به څنګه لوبه وکړي. بلاخره د ليلا په مکررې غوښتنې اجازه يې ورکړه چې لوبه وکړي.

لوبه ډېره ستونزمنه وه. د لوبې تر نیمایي پورې هیچا هم ګول ونه کړ.

د لوبې په دوهمه نیمایي کې یو هلک لیلا ته توپ پاس کړ، هغې د ګول کیپر په لورې په ډیرې چټکۍ سره توپ وځغلوه او د پښې په واسطه یې ګول ووهه.

لوبې ته راغلو نندارچیانو ډیره خوښي وښوده، او له همغې ورځې وروسته نجونو ته اجازه ورکړل شوه چې په ښوونځي کې د فوتبال لوبه وکړي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## ليلا، د فوټبال ستوری

Eden Daniels
Eden Daniels
Zahidullah Abid

CC BY NC